**لنډيز:**

ددغی ادعا داثبات لپاره چه داروپایی اتحادیی په مرسته د تمویل شوی پروژه دهرات په زون کی دڅارویو دتولیداتو د ډیربښت په سبب دخواړو د زیاتوالی ، مصونیت او ښوالی باعث ګرځیدلی دی دهالند کمیته دحیوانی روغتیا اوتولیداتو داوسنی حالت په باب یو لړمطالعی او څیړنولاس پوری کړی دی چه یوه دری اړخیزه کړندلاره په لاندی ډول تراجراء لاندی نیولی دی:

1) په لومړی سروی کی د ۳۶۰کسو مالدارانوسروی چه د۱۹۹۶کال دڅیړنو په اساس انتخاب شوی وواو مختلف مالداران پکی شامل وو.
2) دوهمه سروی یو مقایسوی سروی دی دا دهغو مالدارانو په مینځ کی چه دوترنری خدماتو څخه ګټی اخلی او په همدی ډول دهغو مالدارانو ترمینځ چه دوترنری خدماتو څخه ګټی نه اخلی یوه مقایسه ده.
3) دریمه څیړنه یا سروی دمالدارانو د لس کسیزی څلوروګروپونوسروی دی چه په دوامداره شکل سره ددوکالو په مدت دوام لری.

د۲۰۱۱او ۲۰۱۲ کلونو دلومړی او دوهم سرویو ارقام اومعلومات موجود او ددوی دتحلیل او تجزیی نتیجی په راپورونوکی لیکل شویدی خو داچه دریمه سروی تراوسه پای ته نده رسیدلی او ټول معلومات یی بشپړ شوی ندی نو ځکه ددریمی سروی دارقامو تحلیل او تجزیه په دی راپورکی شامل ندی.

ددوهمی سروی یا مطالعی تحقیقی موخه داده چه دهغو مالدارانو چه دوترنری خدماتو څخه ګټه اخلی دهغوی دڅارویو دتلفاتو او دځای په جای کولو کچه( په رمه یا ګله کی زیاتوالی یا کموالی) اودهغومالدارانو چه دوترنری خدماتو څخه ګټه نه اخلی مقایسه کړواو دلومړنی څیړنی یا سروی تحقیقی موخه د۱۹۹۶ کال او داوسنی حالت ترمینځ دراټول شوو معلوماتو او ارقامو دمقایسی څخه عبارت دی.

امکان لری د۲۰۱۱کال او د۱۹۹۲-۱۹۹۳ کلونو ترمینځ دراټول شوو معلوماتو او ارقامو دقیقه مقایسه دډیروعواملودبدلونونوپه سبب (تغذیی ،نسل ،دساری ناروغیوشیوع ، دمالدارانو دآګاهي اوپوهی سطحی او دحیوانی صحت او تولیداتو مسایلو پوموردکی ) ډیرمناسب نه وی په همدی سبب دلومړنی سروی ارقام لکه ددوهمی سروی دارقامو په شان دتحلیل او تجزیی لاندی راغلی او په واقعیت کی دمالدارانو دمختلفو ګروپونو مقایسه دګټی اخیستلودمنبع له نظره څه دوترنری ساحوی واحدونواو څه دبازار ټول دلومړی سروی دمطالعی په جمعه کی راغلی دی.د لومړی او دوهمی سروی نتیجی په یوه کتار کی ډیر متناسب دی.

ددواړو سرویو دتحلیل او تجزیی له مخی څرګندیږی چه دتخمین په شکل هغو مالدارانو چه دوترنری خدماتو څخه دوترنری ساحوی واحدونو څخه استفاده کړیدی په مقایسه دهغو مالدارانو چه له دی خدماتو څخه استفاده ندی کړی موءثری ګټی اخیستی دی.
په دی ترتیب :

1. د۲۰ فیصدو په حدودکی دبالغو پسونو اووزو دتلفاتو دتنقیص په دواړو سرویوکی.
2. د۳۰ فیصدو په حدودکی دوریواو سرلیودتلفاتو تنقیص په دوهمه سروی کی .
3. د۱۰ فیصدو په حدودکی دڅارویو په شمیر کی چه دګلی یا رمی څخه دباندی خاریجیږی .

په سروی کی وینوچه دڅارویو صحت دمختلفو کلونو په لړکی توپیر لری .په کلی صورت سره دڅارویو دصحت حالت په ۲۰۱۲کال کی د۲۰۱۱کال په پرتله ښه دی .

دغه مثبته اغیزی له هغو مثبتو اغیزو څخه چه په تیرشویو کلونوکی په هغو ځایونوکی چه حتی خدماتو هم صورت نیولی دی زیاتوالی ښئی . له دغه څخه څرګندیږی چه مونږباید په دوامداره توګه په پرله پسی کلونوکی همداسی مطالعی او سروی اجراء او سرته ورسوو.

دغه کار مونږ ته اجازه راکوی چه دوترنری دخدماتو په څنګ کی داقلیمی تاثیراتو ، خوراکی موادو او دساری ناروغیوداپیدیمی حالتونه هم دخپلی مطالعی لاندی ونیسو.

| روغتیا یا دتولید شاخص | دکال تاثیر *یا دوترنری دخدماتو څخه ګټه اخیستی دوترنری ساحوی واحدونوله لاری. | لومړنی مطالعی یا سروی | دوهمه مطالعه یا سروی |
|---|---|---|---|
| تلفات یا مړینی په وزواو پسونوکی | دکال تاثیر *یا دوترنری دخدماتو څخه ګټه اخیستی دوترنری ساحوی واحدونوله لاری. | ٢٠٪ تنقیص په تلفاتوکی<br>٢٠٪ تنقیص په تلفاتوکی | ٣٥٪تنقیص په تلفاتوکی<br>٢٠٪ تنقیص په تلفاتوکی |
| تلفات یا مړینی په کوچنیوڅارویوکی | دکال تاثیر *یا دوترنری دخدماتو څخه ګټه اخیستی دوترنری ساحوی واحدونوله لاری. | تاثیر نه درلوده<br>٣٥٪تنقیص په تلفاتوکی | ١٠٪تنقیص به تلفاتوکی<br>٣٠٪ تنقیص په تلفاتوکی |
| د وریواو سرلیوله مخی چه له رمی څخه خارج شویدی. | دکال تاثیر *یا دوترنری دخدماتو څخه ګټه اخیستی دوترنری ساحوی واحدونوله لاری. | ١٥٪زیاتوالی<br>١٥٪زیاتوالی | ١٥٪زیاتوالی<br>١٠٪ زیاتوالی |

*دامقایسه په هغو حالاتوکی دی چه دوترنری خدماتو دوترنری دساحوی واحدونوله لاری سرته رسول شویدی.

دلاسته راغلی پایلی په کتنه کی دا منطقی څرګندیږی چه باید داولی مطالعی یا سروی ته ادامه ورکړشی څکه ددوهمی سروی دنتیجو سره مشابه نتیجه په لاس راځی او دا په داسی حال کی دی چه دمالدارانو ګروپونه په دی سروی کی په مشخص ډول تعریف شوی ندی او په ضمن کی دمختلفو ګروپونوپه مینځ کی مناسبه موازنه هم وجود نلری.

په عوض کی توصیه کیږی چه په سوالنامه که دبدلون دراوستلو په موخه زیرمی په کاراچول شی او دمعلوماتو دراټولولو لکه له رمی څخه دخارج شویو څارویو ارزښت ، دواکسینونو او دواګانو ارزښت اوقیمت (له کلینک یا دبازار څخه) ، درملنه ، دتلفاتو دضایعاتو له سببه صورت ونیسی .

ددغو راټول شوو معلوماتو اوزیرمو دتحلیل او تجزیی په مقایسه کی دوترنری خدماتو دمصرفونو او ګټو چه له هغو څخه مالدارانو ته رسیږی هم استفاده کیږی .

له دی نه پرته په دی سبب چه وکولای شو دوترنری خدمتونو داغیزی څخه چه دوترنری دساحوی واحدونو له لاری هغه ډیر ښه انځورونه وړاندی کیږی په لاس راوړو د جولای دمیاشتی دمشورو په لړ کی داسی وړاندیز وشو چه ترڅو په لاندی مواردوکی مطالعی صورت و نیسی.

1. حیوانی تولیدات ( کشمیره یا کرک ، وړی ، لبنیات یا په مشخص توګه قروت).
2. دناروغیو شیوع ( دانتروتوکسیمیا ناروغی دکلینیکی نبنی پر بنست).
3. دمالدار دمعیشت ، غذایی مصئونیت او دعوایدو یا ګټی په مورد کی .

دوخت په سپماسره سره داولی مطالعی دادامی څخه ډډه وشی او ددوهمی مطالعی دتولیداتو او دناروغیودشیوع په هکله دوخت څخه کاراخلو.

دبلی مطالعی دسرته رسولو چه دمعیشت په هکله دافغانستان لپاره دهالند کمیته دکارمندانواو تمویل کونکو سره دژوری او جدی بحث ته اړتیادی ترڅو دهغو اهدافو اوموخو تعین اومطالعه دیزاین شی .